

# بې موره عاشق

ناول

Ketabton.com

لیکوال: رفیع الله علی حیدر ( وردګ)

ډیزاین: محمد کریم (فیضی)

شمیره: ۰۷۸۳۵۳۳۴۱۶/۰۷۶۴۱۷۲۶۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب بیژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نـــــــوم. | بی موره عاشق (ناول) |
| لیـــکــــــــــوال. | رفیع الله علی حیدر (وردګ) |
| ډیــــــــــــزاین. | محمد کریم (فیضی) |
| د چاپ کـــــــال. | ۱۴۰۲/۲/۳ |



| | |
|---|---|
| د لیکوال اول شمیره. | ۰۷۹۷۳۳۵۸۳۰ |
| د لیکوال دوهم شمیره. | ۰۷۳۰۴۳۲۷۶۲ |
| بریښنالیک. | Karimullahfaizi3@gmail.com |


که چیرې تاسی غواړی خپل کتابونه ته ډیزاین ورکړی

نو له موږ سره په تماس کی شی.... ۰۷۸۶۷۸۸۴۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال خبری!

ګرانو او محترمو لوستونکو په دی هیله چی روغ او جوړ به یاست.

ګرانو ملګرو د خپل مور او پلار خدمت زیات کوی او هر څومره چی درته غوصه کوی نو تاسی یی زغمی پوهیږئ هغه وخت بیا آرمان درځي خدای دی نکړي چی له دنیا تللی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ دی وي!

## زما خوږې میني ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړم بازار ته سودا پسی.
سودا می واخیست لاړم موټر ته ورغللم.

ګورم چی د موټر سره یو قاري یا (طالب العلم)خفه ناست وو.
تقریباً 21 کالو به وو.

زه ورغللم پوښتنه می تری وکړه چی ولی داسی خفه ناست یی؟
جواب یی راکړو وویل:

وروره نه یم خفه ما وویل: نه خفه خو یی راته ووایه.
راته یی وویل: زما کیسه اوږده ده پرتا ناوخته کیږي.

ما ورته وویل: نه ناوخته کیږي نه.
هغه وویل: خی غوږ شه د اوله سره یی شروع کوم.

زه د 8 کالو وم چی پلار می مدرسی ته بوتللم.
ما ته مدرسی ډیر خوند راکولو زما پلار هم ملا وو.

زموږ کورکی مور می پلار می او یوه خورمی وه.
ژوند روان وو ډیر ښه وخت تیریده .

بله ورځ د جمعی مبارکی په شپه راغللم کورته.
د شپی دولس بجی به تقریباً وی.

زموږ د کور دروازه امریکایانو په ماین باندی ماته کړه.
راغلل زما پلار یی راته شهید کړو زه بی هوشه شوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی په هوش کی راغللم.

ګورم چی پلار او مور می دواړه شهیدان شوی دي.

ما ډیری زیاتی چیغی ووهلی خور می هم سمه لیونۍ شوی وه.

ډیره د غم شپه او ورځ وو.

خو زه نه وم خبر چی زما مور یی ولی شهیده کړی وه.

دری شپی تیری شوی.

مامی له خور پوښتنه وکړه چی مور یی ولی شهیده کړه؟

هغه ځواب راکړه او وویل:

چی پلار یی شهید کړ هغه کافر مور په چاکو مردار کړو.

نو یی مور هم شهیده کړه .

بیا مو ښه ډیر وژړل خور می راته وویل:

سبا لاړ شه مدرسی ته.

ما وویل: سمده خوری سبا لاړم مدرسی ته سبق می شروع کړل.

روژی مبارکی ته د یارلس شپی پاتی وی.

زه خو په مدرسه کی وم.

په خور باندی می روژه هم کیده او پر ما نه کیده.

جمعی مبارکی په شپه لاړم کورته.

خور می راته ویل:

وروره روژی ته خو مو هیڅ شی نشته دا به څنګه کړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل خیر الله پاک مهربانه دی.

هغه وویل: بیشکه چی الله پاک مهربانه دی.

زه به چی چا ولیدم نو زړه به یی راباندی سوزیده.

لس او شل روپۍ به یی راکولی.

ما ټولی روپي غونډی کړی وی .

پر ما می خور ډیره ګرانه وه داسی وه لکه زما مور.

پیسی می غونډولی تر روژی مبارکی پوری 1200 افغانۍ شوی.

روژی مبارکی ته دری شپی پاتی وی.

زما ډوډۍ خو په مدرسه کی وه.

خور می کور کی وه.

زه به د جمعی مبارکی په ورځ تللم کور ته.

جمعه مبارکه سبا ته وه.

زه لاړم بازار ته لږ لږ سودا می واخیست کورته می یوړه.

خور می چی زه ولیدم ډیره حیرانه شوه او وویل دا دی له کومه کړلی؟

ما وویل : ما درته ویلي وو چی خدای پاک مهربانه دی.

هغی وویل: بیشکه چی خدای پاک مهربانه دی.

روژه مبارکه راورسیده خو ملا صیب ماته وویل:

چی پر تا روژه نه کیږي ته یی مه نیسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په روژه ماتی کی به هر چا ما ته خرما راکولی.

خو ما به غونډولی د خور لپاره می جمعی په ورځ لاړم کورته.

خرما می هم یوړی خور ته می ورکړی.

هغه ډیره خوشاله شوه.

زه به چی کور ته لاړم مور او پلار به می ډیر یادیدل.

تنها زه نه وم چی داسی بی موره بی پلاره یم بلکی ټول افغانستان باندی ظلم شوی وو.

وخت تیریده اختر هم رانیږدی شوو.

زما او زما د خور هیڅ شی هم نه وو خو الله پاک مهرباني وو.

یو سړی راغلو مدرسی ته وویل:

چی فلانی زوی می پکار دی زه ورغلم ما ورته وویل زه یم.

هغه راته وویل: راځه زما سره.

ما وویل سمده لاړو بازار ته راته یی وویل: کوم کالي اخلی ؟

ما وویل: هاغه زیات یی وخندل.

او وویل: ته د ښځو کالي څه کوی.

ما وویل: زه می خور ته اخلم.

زما پرځای زما خورته واخله.

هغه وویل: سمده.

ډیر خفه شوو هغه نفر راته یی وویل د ځان کیسه کی نه یی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د خور غم درسره دی ما وویل:

زما خور زما مور ده هغه پرما ډیره ګرانه ده.

سړی ماته هم کالي واخیستل.

او زما خور ته یی هم د اختر ټول سامان واخیست.

خو نه پوهیږم چی دا سړی څوک وو کورته راغلم.

خور ته می کالي وربښکاره کړل.

هغه راته وویل دا دی له کومه کړل؟

ما ورته ټوله کیسه وکړه .

وخت تیریده خلکو هم د پخوا په شان راسره کمک نکوو.

سبا بیا راتللم مدرسی ته یوه انجلۍ می ولیده ډیره ښایسته وه.

مکتب ته روانه وه.

زه په مخ ورغلم خدای شته چی زما ډیره خوښه شوه.

وخت تیریده زما دستار بندي وخت هم رانیږدی وو.

بله ورځ ډیر خفه وم کورته راغللم خور می راته وویل ولی داسی خفه یی.

ما وویل: خوری لس شپی می دستاربندي ته پاتی .

زما ملګرو کالیس او بوټ هر څه یی اخیستي او زما هیڅ نشته.

خور می وویل: مه خفه کیږه.

زما سره یو څو روپۍ شته پلار چی راته ګوتمۍ راوړی وه هغه به هم خرڅه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا لاړو بازار ته خور می راته کالي او نور شیان واخیستل .
زه ډیر خوشاله شوم دستاربندي می هم تیره شوه .

راغلم کورته خور می راته ډیره خوشاله وه.
سباه مدرسی ته روان وم چی هغه انجلۍ می بیا ولیده زه تری تیر شوم.

راباندی غږ یی وکړه ویلی یی..
ای قاري صیب ما خو تر مکتبه ورسوه په لاره کی سپي دی.

ما وویل: سمده ورسره روان شوم تر مکتبه می ورسوله.
ماته هم مکتب ډیر خوند راکوله.

خو دبی وسی دلاسه نشوو کولی زه بیرته تری روان شوم.
انجلی غږ کړی مننه الله پاک دی وساته.

ما وویل مننه ستاسو سره.
زه هره ماښام راتللم کورته سهار به تللم مدرسی ته.

خو دا انجلۍ هره ورځ زما سره مخ کیدله.
سهار اته بجی وی چی له کوره روان شوم ګورم چی په لاره کی هغه انجلۍ ناسته ده.

ما ته یی وویل: ته مکتب وایی؟
ما وویل: نه زه مکتب نه وایم.

وویل ولی یی نه وایی.
ما ورته د ژوند ټوله کیسه وکړه هغه ډیره خفه شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه روان شوم مدرسی ته او هغه لاړه مکتب ته.
سبا بیا روان وم مدرسې ته بیا د هغې انجلۍ سره مخ شوم.

راته یې وویل ودریږه.
زه ودریدم راغله سترګي مشي یې راسره وکړه او 600 افغانۍ یې راکړی.
او وویل دا واخله ستا د جیب خرچه.

ما ترې مننه وکړه او ورته می وویل: چې دا تا له کومه کړی؟
هغی وویل: زما پلار ډیره دنیا لري خو خیرات او صدقه نه کوي.
دا مې درس په بهانه ترې واخیستې.

ما ورته وویل که خبر شي.
هغی وویل چې ته یې خبر نه کړی نور به یې نو څوک خبر کړی.

ما وویل زه خو یې نه خبروم .
هغی وویل سمده که دې روپۍ ته ضرورت کیده ماته یی وایه.

ما وویل سمه ده مننه.
زه بیا ماښام لاړم کور ته مې خور ته مې روپۍ ورکړی .
وروره دا دې له کومه کړی.

ما ورته توله کیسه وکړه هغه موسکۍ شوه خو نه پوهیږم چې ولې یې وخندل.
قاري صیب تر دې ځایه یې کیسه وکړه.

د قاري صیب کیسه ډیره زړه دردونکې ده.
زما څخه یې پوښتنه وکړه چې ستا نوم څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وويل: نوم مې علي حيدر دی.
قاري صيب وويل ماشاءالله ډير ښه.

نو قاري صيب بيا کيسه شروع کړه.
خور ته مې وويل: ولې موسکۍ شوې.

خور مې وويل: وروره داسې نه چې عاشق شوی يی پری.
ما وويل نه خورې هغه زموږ سره کمک کوي.

خور مې وويل سمه ده.
سبا بيا لاړم چې هغه انجلۍ هلته ولاړه وه ما فکر وکړو..
چې دا ولې داسې هر وخت زما انتظار کويٍ.

بس ور ورسيدم راته يې وويل: درپسې خفه يم .
ما ورته وويل ولې.

هغی وويل په تا پسې مې زړه درد کوي.
ما ورته وويل: هيله کوم په ماپسې زړه مه تړه زه غريب سړی يم .
ډير سخت وارخطاء شوم .

هغې بيا وويل هيله کوم ماته غريب او مالدار فرق نکوي..
خو چې ستا غوندې انسانيت پکې وي هيله کوم.

ما ورته وويل نه نه مکوه داسې .
ډير سخت لړزی ونيولم ځکه چې زه ډير مجبوره او مسکين سړی وم
ما د مينې کيسی لږ لږ لوستې وی ما وويل چې دا رقم خو زه نشم کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجلۍ په ژړا غوني غږ وویل سمه ده.
خو چې هر ځای وي زه به ستا په نامه ژوند کوم او بله دا چې کوم..
ضرورت دې کیدو ماته وایه.

اوس نو زه هم په دوو کې حیران وم..
چې څنګه وکړم هیڅ خواته نشوم کیدای خو ډیر فکر مې خراب شوو.

زه روان شوم مدرسې ته خو هغه پر خپل ځای ولاړه وه.
زه هم مدرسې ته ولاړ نشوم کورته راغلم خور مې د کالیو په مینځلو اخته وه.

زه داسې غلی غلی ترې تیر شوم..
ویې نه لیدم لاړم کوټې ته زیات مې وژړل ..
د مور او پلار په عکس مې سترګی ولګیدې نور هم غم زیات شوو زیات خفه شوم.

نور مې چې خور ته فکر شو کالي یې خلاص کړی وو.
هغه یې لمر ته ځړولي وو نویې خاوره خیشته کړی وه خو پرما نه وه..
خبره چې زه کور کې یم.

خاوره یې تیاره سمه کړه.
زموږ د کور دیوالونه باران ډیر خراب کړی وو هغه یې سمه ول

ما هم سوچ وکړو چې همدلته په کوټه کې پاتې شم دا ښه ده
ځکه په ډیرې ژړا مې سترګې سرې شوی وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که خور مې په دې حال ووینې هغه خفه کیږي.
ډیره خوشاله په کار باندی اخته وه.

ما مې هم د مور او پلار عکسونه راواخیستل ډیر مې ورته وژړل.
اخیر بې هوشه شوی وم.

چې په هوش راغلم ماښام اذان ته لس دقیقې پاتې وې.
زما څخه د مازدیګر لمونځ قضاء شوی وو.

ګورم چې خور مې دیوال په جوړولو اخته وه داسې لږ پاتې وو.
خو نه پوهیږم چې خور به مې زه لیدلی وم کنه خو فکر کوم چې هغه..
کوټې ته نه وه راغلې.

ځکه هغې اکثره وخت لمونځ او ډوډۍ په خونه کې خوړله.
خو چې ورته مې فکر شو یوار به یې دروازی څخه بیرون ته وکتل..
بیا به راغله په کار به اخته شوه.

خو اخیر د ماښام اذان وشوو زه هم له کوټې را ووتم.
ورته غږ مې وکړه خورې د اوداسه اوبه راکړه .

ډیره حیرانه شوه او وویل چیرته وی.
ما وویل ستا راته فکر نه وو همدا اوس راغلم .

وویل سمه ده چې ماته یې وکتل وویل دا سترګې دې ولې سرې دي؟
ما وویل خورې نن مې په مدرسه کې بې اندازی زیات سبق وویلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغی وویل درواغ وایی.

ما وویل ولې به درته درواغ وایم .
خو نه یی منله ماښام ډوډۍ مو وخوړه لمونځونه مو وکړل.

سهار روان شوم مدرسې ته په لاره مې دمور او پلار د شهادت وخت را یاد شوو..
نو فکر می وکړو چې نور نو د مور او پلار د انتقام وخت رسیدلی دی .

له مدرسې څخه وګرځیدم روان شوم زموږ یو کلیوال په طالبانو کې وو..
هغه په بل کلي کې وو ور روان شوم خو اخیر هم ورسیدم .
ورسره ومې لیدل کیسه مې ورته وکړه.

نور یې ټوپک او چانټه راکړه او وویل یې چې زنګ مې درته کولو باید اماده اوسی.
ما ورته وویل سمه ده خو زه موبایل نلرم.

نو پیسی یی راکړی او وویل موبایل به واخلې.
ما وویل سمه ده مننه روان شوم کورته کله چی کور ته ورسیدم.

ټوپک مې پټ یوړلو کی مې ښود
موبایل او سیمکارټ مې هم واخیست .
هغه ما چې ټوپک او چانټه ترې راوړی وه د هغه نمبر ته مې زنګ وکړو.

نوم یې نصیب الله وو ما ورته نصیب وویل:
نصیب ته مې زنګ وکړو زه یې نه پیژندم ځان مې وروښود..
زما نمبر یې ورسره ذخیره کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت تیریده یوه شپه زنګ راغی نصیب وو.

راته یې وویل: راځه موږ درته ولاړ یو..

زه روان شوم ټوپک او چانټه مې را واخیستل په موټر کې ورسره لاړم .

لاړو د امریکایانو کتار ته مو ماین کینبود او راغللو بیرته.

زه لاړم کورته دوی لاړل مرکز ته سبا سهار کتار را روان شوو..

ما ته نصیب زنګ وکړو وویل راځه ما وویل چیری درشم.

هغه راته وویل مدرسې ته راځه.

ما وویل سمه ده انتظار شئ ټوپک او چانټه مې راواخیستله روان شوم..

مدرسې ته چې په لاره کې هغه آنجلۍ راسره مخ شوه.

ماله ځان ځادر تاو کړی وو خو د ټوپک میل لږ ښکاریده.

هغی آنجلۍ وویل: دا څه دي ما وویل :

هیڅ هم نه دي خو ځادر یې رانه کش کړو چې ویې لیدو نو وویل:

هیله کوم داسې مکوه ستا لپاره ډیری هیلې ګوري که ته نه وی..

ستا خور به سوال کوي او په بازار به ګرځي.

د دی آنجلۍ په دی خبرو مې هسی زړه وبایله زړه مې غوښتل چې زیاتې خبری..

ورسره وکړم خو اجازه مې تری واخیسته ما وویل:

ملګري راته انتظار کوي روان شوم هغې په ژړا راپسې غږ وکړو..

او وویل : په ځان دې پام کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو موږ هم لاړو هغه ځای ته چې ماین مو ایښی وو.
د ماین ریموټ یې ماته راکړو.

لږ وخت وروسته ټانګونه راورسیدل
نو ما هم په هغه غټ ټانګ چې ځیریدارورته وایې ریموټ بټن وواهه.
د خدای په مرستې سره ټانګ ټوټه ټوټه شوو.

ملګرو مې پر نورو جنګ شروع کړو.
خو اخیر مې یو ملګری زخمې شوو نو هغه مو موټر ته یوړلو..

څرخي الوتکي راغلی موږ موټر په ډیر تیز سرعت روان کړی وو..
ځکه چی ملګری مو زخمی وو.

ټولو ماته وویل: ماشاءالله ډیر ښه دې ټوټه کړو .
چی داسې لږ لاړو څرخي وارونه یی شروع کړل زموږ موټر یې وویشتو
یو بل ملګری مو هم ډیر سخت زخمي شوو .

ټولو له موټر څخه منډه کړه د ونو بیخ ته او پټ شوو.
څرخي لاړی هغه زخمیان ملګري مو هم شهیدان شوي وو.

ما بیخی زیات وژړل ځکه چې په داسې آرمان کې شهیدان شول .
لاړو شهیدان مو مسجد ته یوړل.

زه بیخی زیات خفه شوم داسی لیویدم نو لاړم د نصیب څخه مې اجازه واخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په وینو هم رنګ وم او په خاورو هم زیات ککړ وم روان وم
کورته چې هغه آنجلۍ له مکتب رخصت شوی وه یوه بله آنجلۍ هم ورسره وه.
چې زه یې ولیدم نو دا چیغه یې وکړه.
نا نا نا داسې نکیږي دا چیغه یې وکړه نو بې هوشه شوه.

هغه بله انجلۍ ډیره وارخطاء شوه خو تقریباً لس دقیقې بې هوشه وه.
په هوش رانه غله زه هم ډیر وارخطا شوم.

چې د هغې سترګو او مخ ته مې په ځیر ځیر وکتل نو راته..
یې سترګو کې پاکه او صفا مینه ښکاره شوه.

زړه مې غوښتل چې په تندي یې ښکل کړم خو هغه بله انجلۍ وه .
چې په هوش کې راغله وویل: ته خو ښه یې ژر دې ځان تر روغتون ورسوه.
ما وویل زه جوړ او روغ یم.

خو بیایې زیاتې خبرې وکړی.
کور ته لاړم غوښتل مې چې له خور څخه پټ لاړ شم کالي به بدل کړم
خو هغه مې خور په دروازه کې ولاړه وه .

چې زه یې ولیدم ډیری تاثیر ناکې چیغې یې وکړی .
زه د زخمې ملګري په وینو رنګ او سپیره هم ډیر وم خور مې زیات وژړل.
خو چې کیسه مې ورته وکړه لږ قراره شوه.

وخت تیریده نو خور او هغې آنجلۍ دې ته مجبوره کړم..
چې ټوپک بیرته نصیب ته ورکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خور مې وويل: چې زما په خاطر داسې مکوه که ته نه وی.
ته فکر وکړه چې زه به څه کوم ها ته دا راته ووایه زه به څه کوم.

ما ورته وويل سمه ده .
سبا لاړم ټوپک مې وروړو نصيب وويل
ولې داسې مکوه ما ورته ټوله کيسه وکړه .

نصيب هم وويل: سمه ده چې داسې ده مشکل نلري ګرانه.
نور زه ترې روان شوم ډير فکر مې خراب وو
د هغه شهيدانو ډيوه واده وو يو زوی هم لرلو او هغه بل تازه واده يی کړی وو.

ډير فکر مې خراب شوو په لاره روان وم چې يو موټر ودريده.
ګورم چې د هغې آنجلۍ پلار دی .

سلام او ستړي مشي مې ورسره وکړه.
نو ماته يې وويل راځه زه به دې ورسوم .
موټر ته چې پورته شوم هغه آنجلۍ هم د شا په سيټ کې ناسته وه.

موټر حرکت وکړو د آنجلۍ د پلار سره مې زياته خبری وکړی.
هغی هم زياتې خبری راسره وکړی .

وخت هم د غرمې د ډوډۍ وو .
زما کور ليری وو نو د آنجلۍ پلار زما سره ډيره تبعه ولګيده .

نور راته يې وويل: ډوډۍ به زما سره وخورې بيا به لاړ شې .
ما ورته وويل: نه خير يوسی زه ځان رسوم کور ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وویل: نه دا خو ډیر غلط کار دی چی ته اوس بې ډوډۍ ځې.

خو اخیر ورسره لاړم ډوډۍ مې وخوړه او زه بیرته روان شوم کور په طرف..

چې کور ته ورسیدم په جیب کې مې موبایل پاتې وو مې نصیب ته زنګ وکړه.

ورته مې وویل: نصیبه موبایل مې هیر شوو که کله راکوز شوی..

زه خو په مدرسه کې وم خو موبایل کور کې پریږدم.

نصیب وویل: نه یاره هغه یې ستا ما وویل: سمه ده مننه الله پاک دې وساته.

وخت تیریده نو ما هم خپلی خور په خاطر بیرته مدرسه شروع کړه.

خو هغې آنجلۍ کور د مدرسې په لاره کې وو.

بل مکتب ته به چې تلله نو د مدرسې په لاره کې یې خط لیکلو .

اوس نو زما هم ورسره مینه زیاته وه زه یې هم دلیدوته لیواله وم .

خو مدرسې ته لاړم ومې نه لیده مابنام بیا راغلم بیا مې هم ونه لیده .

فکر مې زیات خراب شوو.

سبا سهار مې ورسره ولیدل سترې مشي مې ورسره وکړه .

او راته یی وویل: ټوپک دې یوړو ما ورته وویل هوو.

هغی راته وویلی مننه ګرانه.

بیا یی وویل: ولې داسې له ژونده ناهیلی یې ما هم ورته یو شعر داسی وویلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یادونه به مې خیال له راوستل چې کله مړه وه**
**د مور د پښو تلې مې خکلول چې کله مړه وه**

**اې غربت دومره سیوا وو چې کفن له پیسی نه وو**
**دا هر څه مې په زړه باندی لیکل چې کله مړه وه**

**او تربوره خوا دی یخه شوه تربوره په قرار شوی**
**تربوره ما ژړل او تـــا خندل چې کله مړه وه**

**ولا چې مور مې مړه شوه په هیڅ شی می پروا نه وو**
**اې ولا خپل ارمانونه مې وژل چې کله مړه وه**

**او د مور د پښو تلې مې خکلول چې کله مړه وه**
**یو زه وم یو مې کور وو یو مې مور یو مې  خور وه**

**زما نه زما خور سیوا ژړل چې کله مړه وه**
**یادونه به مې خیال له راوستل چې کله مړه وه**

دې شعر سره هغې په ژړا شروع وکړه.

او وویل یی هیله کوم نور یې مه وایه  ګرانه .

ما هم شعر بس کړو ماته یې وویل :

نن مدرسې ته مه ځه زما سره مکتب ته لاړ شه ما وویل سمه ده .

ورسره لاړم په لاره یې ډیر زیات نصیحت راته وکړو.

اخیر مې ورته وویل:  خیر دی بس دی چې دا خو زده کړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې راته وویل: ښا سمه ده خو بیرته داسې کار ونکړی.
صرف خپل خور او ژوند لپاره دې کوښښ وکړه ما هم وویل سمه ده .

هغه لاړه مکتب ته دننه شوه .
او زه بیرون ولاړ وم انتظار شوم لس دقیقې وخت تیر شوو چې بیرته راغله.
او وویل یې راځه چې ځو.

ما ورته وویل ولې مکتب.
وویل یې اجازه مې واخیسته ما وویل ولې..

وویل یې نن ستا په دیدن خپله تنده ماتوم .
ما وویل: ولې زه دې څه یم وویل: کم عقل خو یې ولې داسې وایې.

ما ورته وویل: زه نور ستا سره نشم لیدلی ځکه چې د ملک پښتنو دی.
هغې وویل: هیله کوم داسې مه وایه.

وخت تیریده بله ورځ امریکایانو زموږ د کور په څنګ کې موټر ویشتلی وو.
زه په مدرسه کې وم چې کور ته لاړم .

ډیر وارخطاء شوم ژر مې منډه کړه
چې کورته لاړم د کلي ښځې راغلې وې او ژړل یې.

چې ګورم خور مې په شهادت رسیدلې وه.
زما هغه صحنه هیڅ هیریږی نو داسې لېونی شوم چې هیڅ په ځان نه پوهیدم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ځل بيا داسې غمونه راغلل..
چې د مور پلار خور غربت نور مې هيڅ توان نه وو .

بغير د خود کشۍ اوس نو غمونه او زه يوازې وو.
په ژړا ژړا مې سترګو څخه وينې راغلې دوه مياشتې وخت تير شوو.

زه لکه لېونی کله په جومات کله په صحرا کې مې شپې کولې .
اخير مې نور توان ختم شوو نشې مې شروع کړې.

يوه ورځ چې اول وار مې د نشې وو.
د هغې آنجلۍ سره مخ شوم چې زه يې وليدم وويل دا څه څه دربانده شوې.

زه نشه وم هيڅ په خبرو يې پوه نشوم .
ډير وخت کيده چې ډوډۍ مې هم نه خوړلې آنجلۍ منډې کړې.

زه روان شوم چې لږ لاړم آنجلۍ راباندې غږ وکړو.
زه  ودريدم ګورم چې ډوډۍ يې راوړه .

زه ډير وږی شوی وم ډوډۍ مې وخوړه هغې ژړل زه لږ د نشې له حال ووتم.
ما ورته وويل ولې ژاړې؟

هغې هيڅ جواب رانه کړو خو زيات يې وژړل.
ما ورته دعا وکړه او روان شوم .

خو هغه په هغې ځای ناسته وه او ژړل يې هره ورځ يې ډوډۍ راکوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله ورځ خبر شوم
چې د هغې آنجلۍ پلار د هغې واده د بل چا سره کړی.

زه نور هم لېونی شوم خو چې سهار خبر شوم هغې آنجلۍ ځان وژنه کړی وه او زه هم لاړم لېونی فول نشه یی او پودري شوم بس خلاص.

پای

ستاسو کشر ورور رفیع الله علي حیدر
ستاسو دعاوو په هیله وسلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## د لیکوال پیژندنه

رفیع الله علي حیدر د ګل ولي زوی د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالی د شنیز د ښکلي کلي اوسیدونکی مصروفیت اوس محال متعلم او د کور په کارونو که مرستیال زده کړی اوس هم د کفتان تاج محمد په عالي لیسه کی کوي البته د نهم ټولګي زده کوونکی دی.

د رفیع الله علي حیدر لیکل شوی کتابونه.

نیمګړی ژوند، د خور او ورور ارمان، غم او هجران، د غم ژوند، د استاذ شفقت، او همدا راز یاد ناول.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library